مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۳/۱۱/۰۵

کمزوري

دومره کمزوري شوم له خپل کور شرل کیږمه
لـکه یتیم خـپـله کـوڅـه کی رټل کـــیـږمـــه

د بل مزدور زما د کور کلی خاوند جوړ شو
د یو غـلام حاکـم په حـکم وهـل کـــیـږمـــه

زه گنـاه گار یم ما د ځان سره جـفا کـړیده
چی ورځ تر بلې له پرون کـمزوری کیږمه

مانه د مور د شـیدو سـتره بی قدري شویده
ځکه د ځمکې په لوی کور کی ځانته کیږمه

هلته می وروړمورچه نیولې ګزارونه کوی
دلتـه هـم اورکی د مـیري د زوی سـوزیږمه

دا سرزوري می کمزوري ده خو ځان نه پوهوم
کـــبر نیـــولی یـــم نـا پـــوه یـــمه غـر قـــیږمه

رانه د کلی کلیوال هـم مـرور دي واړه
ورو ورو له خپلو کلیوالو هـم بیـلـیـږمـه

نومبر/۲۰۲۳/۳
تورنتو- کانادا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ